UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

**یوناما د بشري حقونو فعالین او مدافعین ستایي او دهغوی د ساتني غوښتنه کوي**

**کابل، د۲۰۱۶ کال د دسمبر ۱۰مه** – د بشري حقونو دنړیوالي ورځي د لمانځنې په لړ کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د بشري حقونو د افغان فعالینو د کار په اهمیت او پیچلتیا رڼا اچولې او له ټولو خلکو یې غوښتي، چې داغیزمنو شویو میرمنو، نارینه وو او ماشومانو د حقونو د خوندیتوب لپاره راپورته شي.

د پنج شنبې په ورځ د یونا په ملاتړ په کابل کې جوړې شوې ناستې کې د بشري حقونومخکښو فعالینو په دې بحثونه وکړل، چې په افغانستان کې روانو وسله والو جګړو ددوی کار چې خورا مهم دی له ځومره ننګونو سره مخامخ کړی.

د بشري حقونوفعالینو د نورو له حقونو په دفاع سره ثابته کړه، چې د یوه کس د حق په ترپنو لاندې کیدو سره د هرانسان شخصیت ته زیان رسیږي. په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي او د بشري حقونو د سرغړونو په لړ کې د بشري حقونو د فعالینو کار نور هم سخت شویدی – داسې سرغړونې، چې پر جګړې سربیره د کار په چاپیریال او ان کورکې هم رامنځ ته کیدی شي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی او د یوناما مشر تدامیچي یاماموتو وایي: "دافغانستان د بشري حقونو دفعالینود سرکال شعار دادی، چې ، د یوه شخص د حقونو لپاره همدا نن راپورته شئ ." هغه زیاته کړه: "دغه نارینه او ښځې ریښتیني اتلان دي او موږ ددوی په ځیرنورو زړورو اشخاصو ته اړتیالرو، چې په نړیواله کچه د بشري حقونو ساتنه وکړي. دا په بشپړ ډول دنه منلو وړ ده، چې د جګړو په زیاتیدو سره ددوی په وړاندې پراته خطرونه په زیاتیدو دي. د جګړې ښکیلې غاړې باید ددوی د خوندیتوب د ډاډمنیدو لپاره نور ډیرځه ترسره کړي. "

یوناما به دخپلو "ښه نیت چارو" له لارې هڅه وکړي، دا ډاډ رامنځ ته کړي، چې په افغانستان کې د جګړې ټولې ښکیلې خواوې د بشري حقونو له فعالینوسره کار او هغوی ته درناوي وکړي. ملګري ملتونو دا ډول د میرمنو، ماشومانواو معلولینو په ګډون د ټولو اغیزمنیدونکو ډلو او د هغوی د مدافعینو په وړاندې د بشري حقونو د سرغړونو کلکه ځارنه کوي.

یوناما په افغانستان کې دبشري حقونو د سازمانونو د هغه غړو ملاتړکوي، چې د بشري حقونو د فعالینو لپاره د کاري چاپیریال د ډاډمنولو او د افغانانو د حقونو د خوندي کیدو لپاره یې پورته کړی.

په کابل کې د پنجشنبې د ناستې افغان فعالینو په دې ټینګار کاوو، چې سوله، بیا پخلاینه ، حساب کتاب او عدالت د افغانستان د راتلونکې لپاره ډیره مهمه ده.

ملګرو ملتونو نن په ټوله نړۍ او افغانستان کې د بشري حقونو ورځ، له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د بشري حقونو دنړیوالي اعلامیې له منل کیدو راهیسې د بشري حقونو په برخه کې رامنځ ته شویو پرمختګونو ته کتنه کوي. دا په نړیواله کچه د ټولو خلکو لپاره د بشري حقونو د خوندیتوب او ښه کیدو له اړخه یو هر اړخیزپیل دی. د بشري حقونو فعالین ددغو روانو هڅو مخکښان دي.

* * *

*په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) ماموریت، د افغان حکومت او افغانانو ملاتړ دی او د یوه سیاسي ماموریت په توګه د نورو مهمو خدمتونو ترڅنګ د ښه نیت چاري وړاندې کوي. "د ښه نیت چاري" هغه ډیپلماتیک ګامونه دي، چې ملګري ملتونه یې په عام او شخصي ډول دخپل استقلالیت، بې پرې توب او امانت داری د ترسیمولو لپاره پورته کوي، چې د نړیوالو شخړو د پراختیا، خپریدا اوزیاتیدا مخه ونیسي. یوناما د سولې او پخلاینې له بهیرونو سره مرسته کوي؛ په وسله والو شخړو کې د ولسي وګړو د خوندیتوب په ګډون د بشري حقونو ځارنه او ملاتړ کوي؛ ښې حکومتوالی ته وده ورکوي او سیمه ییزه همکاري راجلبوي. یوناما همدارنګه د همغږي پرمختیا ملاتړ کوي، چې د نړیوالې ټولنې لخوا یې ملاتړ کیږي.*